نجيب منلی ۲۰۱۰/۷/۱۸

# فساد او ورسره مبارزه؟

د فساد پر ضد د ملګرو ملتو کنوانسيون چې په د ۲۰۰۳ کال د اکتوبر په يو دېرشمه په اتو فصلونو او ۷۲ مادو کې جوړ شوی، د ۲۰۰۵ د دسمبر په ۱۴ نافذ شوی او اوس يې شاوخوا ۱۴۰ هېوادونه غړيتوب لري (افغانستان د ۲۰۰۴ د فبروري په ۲۰ د دې کنوانسيون غړيتوب تر لاسه کړی دی او د ۲۰۰۸ د اګست په ۲۵ يې تصويب کړی دی) په خپله مقدمه کې هغه دلايل څېړي چې د دغه کنوانسيون له پاره يې اړتيا پيدا کړې ده.:

- د هغو ستونزو او ګواښونو جديت چې فساد يې د ټولنو د ثبات او امنيت له پاره پيدا کوي ، د ديموکراسۍ، اخلاقي ارزښتونو او عدالت بنسټونه ګواښوي او د پايېدونکي ودې او د قانون د انفاذ په مخ کې خنډ کېږي.
- دفساد او د جنايتونو د نورو ډولونو - په تېره بيا د تنظيم شوي جنايت، اقتصادي جنايت او د پيسو د پاکولو- ترمنځ تړاو.
- د فساد هغه پېښې چې په پراخه کچه شتمنۍ - چې د هېوادونو د شتمنيو مهمه برخه تشکيلوي - په کې ښکته پورته کېږي او کېدای شي د هېوادونو سياسي ثبات او پايېدونکي پرمختګ ته ګواښ جوړ کړي.
- فساد نور يو محلي موضوع نه ده بلکې يوه نړۍواله ښکارنده ده چې په ټولو ټولنو او اقتصادونو باندې اغېز لري.
- د فساد سره مبارزه يوه جامع او ګڼ تخصصي برخورد ته ضرورت لري
- دشتمنيو غيرقانوني لاس ته راوړل کولای شي چې ديموکراتيکو موسسو، ملي اقتصادونو د قانون تنفيذ ته په خاص ډول صدمه ورسوي.

لکه د بل هر پېچلي مفهوم، د فساد تعريف هم اسانه نه دی : تعريف بايد جامع او مانع وي يانې هر هغه څه چې د تعريف لاندې راځي له تعريف شوي مفهوم سره تړلي دي او هر هغه څه چې د دغه تعريف تر چتر لاندی نه راځي له تعريف شوي مفهوم څخه بهر ګڼل کېږي. د ملګرو ملتونو کنوانسيون فساد نه دی تعريف کړی بلکې يوازې د يو شمېر فاسدو چارو نوملړ يې بيان کړی دی. ټولنپوهانو هم بېلابېل تعريفونه وړاندی کړي دي چې په يو ډول نه يو ډول نشته لري. په ۲۰۰۰ کال کې د کامنولت (مشترک المنافع)- هېوادونو سکرتريت د فساد په تعريف کې وويل : «له عامه شتمنيو څخه د شخصي منافعو له پاره ناوړه ګټه اخيستل». دا تعريف تر ډېره حده دقيق دی خو بيا هم د فساد ټول اړخونه نه احتوا کوي. که د يوې کمپنۍ مشر د کمپنۍ له شتمنۍ څخه د خپلو کورنيو لګښتونو له پاره کار واخلي نو له شنخصي شتمنيو څخه يې شخصي ګټه اخيستې ده خو په عين حال کې د شتمنۍ يوه برخه چې د کمپنۍ له حسابه وتلې د ماليې ورکولو په سيستم کې اختلال را منځ ته کوي او په دې اعتبار دغه کار د «فساد» يوه بېلګه ده خو د پورتني تعريف تر چتر لاندې په دقيق ډول نه راځي. ځينو نورو پوهانو بيا فساد هغو کړنو ته ويلي چې : «د عامه چارو د اجرا د وظايفو له عادي چلند څخه انحراف ولري او شخصي – کورني ، مالي منافع په کې په نظر کې ونيول شي يا د شخصي موخو له پاره قانون په کې مات شي.» دا تعريف که څه هم تر لومړي هغه يو څه جامع دی خو بيا هم په کافي اندازه مانع نه دی.

د ملګرو ملتونو کنوانسيون د دې پر ځای چې د فساد مشخص تعريف وکړي يو لړ هغه موارد په ګوته کړي دی چې غړي هېوادونه يې بايد د خپلو کورنيو قوانينو په چوکاټ کې د غير مجازو کړنو په صفت جزايي حيثيت مشخص کړي. له ۱۵ مادې څخه تر ۲۵ مادې پورې دغه موارد په لاندې ډول ذکر شوي دي :

- د عامه خدماتو د کورنيو او نړۍوالو مامورينو له خوا رشوت اخيستل : د عامه چارو يو مامور ته په مستقيم يا غير مستقيم ډول، په خپله د شخص له پاره يا د يو دريمګړي له پاره، د يو غير مجاز امتياز ژمنه کول، وړاندې کول يا ورکول د دې له پاره چې په يوه رسمي مسله کې اجراآت وکړي يا د اجراآتو له کولو څخه ډډه وکړي. د دغو چارو له پاره د همدغه ډول امتيازاتو غوښتل هم تر همدغه حکم لاندې راځي.

- د عامه چارو د يو مامور له خوا د ملکيتونو غصبول يا په ناوړه توګه خپلول
- له خپل رسوخ او ټولنيز دريځ څخه په استفاده، د ځان يا د بل چا په ګټه، يو مامور دې ته هڅول چې په رسمي ډګر کې اجراآت وکړي يا د اجراآتو له کولو څخه ډډه وکړي.
- په غير قانوني توګه د شتمنيو لاس ته راوړل
- په خصوصي سکتور کې رشوت، اختلاص او غصب
- د پيسو سپينول
- د جرم پټول


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

- د عدلي پروسې په مخ کې خنډ کېدل

په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتيژۍ د تطبيق د نظارت قانون هم د يو مشخص تعريف پر ځای د فساد د پېژندلو له پاره اوه لس کړنې يادې کړې دي چې د فساد مفهوم پرې تطبيقېږي :

١ – رشوت
٢ – اختلاس
٣ – د سندونو سرقت
۴ – د رسمي پاڼو او سندونو غير مجاز اتلاف
۵ – د قانوني واک له حدودو څخه تېری
۶ – له وظيفوي موقف څخه ناوړه ګټه اخيستنه
٧ – د عدالت د تطبيق په بهير کې خنډ اچول يا لاسوهنه کې مخنيوی
٨ – په شخصي چارو کې له دولتي امکاناتو او رسمي وختونو څخه ګټه اخيستنه
٩ – له قانوني عذر پرته له دندې څخه ډډه کول او استنکاف
١٠ – د حقيقت کتمان
١١ – د شتمنۍ غير قانوني زياتېدل
١٢ – د سندونو تزوير
١٣ – د دندې انتحال (د هغو چارو د اجرا يا ډډې کولو د واک ښودل چې شخص په هغو باندې نه وي ګومارل شوی)
١۴ – په اړوندو چارو کې د اجرا يا له هغه څخه د ډډې کولو په منظور د هر ډول تحفې اخيستل
١۵ – د سپارل شوې دندې په اجرا کې تعلل
١۶ – د اړوندې اداري د سلوکي قواعدو نه په پام کې نيول
١٧ – په ورسپارل شوو چارو کې د سيمه ييزو، مذهبي، جنسيتي او شخصي کتنو(ملاحظو) شاملول

دغه لست که څه هم خورا پراخه دی خو بيا هم د يو جامع او مانع تعريف ځای نه نيسي او ډېرې داسې کړنې شته چې په فساد به ککړې وي خو په دغه لست کې به نه راځي او يا به کاملاً سپيني او روښانه وي خو د دغه فهرست نادقيق تطبيق به يې د فساد په تعريف کې ورشاملوي، په دوو بېلګو به بسنه وکړو:

- که د پوهنې د وزارت يو مامور په رسمي وخت کې د فساد پر ضد يو سيمينار ته ورشي او هلته وينا واوروي، که څه هم دغه وينا له هر لحاظه د ستايلو وړ وي خو د قانون د دريمې مادې د ٨ بند (په شخصي چارو کې له دولتي امکاناتو او رسمي وختونو څخه ګټه اخيستل) او د ١٣ بند (د دندې انتحال) پر اساس دغه عمل د فساد په لړ کې راتلای شي او يو غرضي څارنوال پرې هغه مامور ته ستونزې جوړولای شي.
- که د دولتي اداري يو کارمند، د دې له پاره، يا په دې پلمه، چې په خپله تر پوښتنې لاندې را نه شي حق نا حقه د بېلابېلو مراجعو د لاسليک او تصويب غوښتنه وکړي د پورتني فهرست يو بند هم نه پرې تطبيقېږي او په ځينو مواردو کې کېدای شي چې د تقدير وړ هم وګرزي خو په ښکاره ډول دغسې چلند د فساد يو خورا ښه بېلګه ګڼل کېدای شي.

په افغانستان کې له فساد سره د مبارزې پر وړاندې بې شمېره ننګونې پرتې دي خو د موجودو کورنيو قوانينو او نړېوالو مکلفيتونو په وړاندې د خقوقي او عدلي پرسونل روزنې ته بايد په کمه سترګه و نه کتل شي. په هغو مواردو کې چې تعريفات جامع او مانع نه وي، چې ټولنيز او سياسي حالات يوه موضوع په بېلابېلو رنګونو ښکاره کولای شي نه تحقيق د هر څارنوال کار دی او نه قضاوت د هر قاضي په صلاحيت کې دی.
له فساد سره د مبارزې د ستراتيژۍ تطبيق پرته له قانوني لاسوندونو يوه کارپوه، مسلکي، اختصاصي پرسونل ته هم اړتيا لري.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ